دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

# دمالګې دآیودې کولو مقرره　　مقررۀ آیوده سازی نمک

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۰ هــ.ش کال دوري دمیاشتې(۶)
پرله پسې نمبر:(۱۰۴۸)

تاریخ نشــر: (۶) حمل سال ۱۳۹۰ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۱۰۴۸)

| | |
|---|---|
| د امتیــاز خاوند: | دعدلیــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۳۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه: بهیـــــر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان

**د مالګې د آيودې کولو د مقررې د نافذېدو په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورئ مصوبه**

**ګڼه: (۴۸)**

**نېټه: ۹/ ۱۲/ ۱۳۸۹**

د مالګې د آيودې کولو مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شورئ لخوا په (۵) فصلونو او (۳۰) مادو کې تصويب شوېده، منظوروم.

دغه مصوبه له نوموړې مقررې سره يو ځای په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررۀ آيوده سازی نمک**

**شماره: (۴۸)**

**تاريخ: ۱۳۸۹/۱۲/۹**

مقررۀ آيوده سازی نمک را که به داخل (۵) فصل و (۳۰) ماده از طرف شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان تصويب گرديده، منظور می دارم.

اين مصوبه همراه با مقررۀ مذکور از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات مقررهٔ آیوده سازی نمک

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنیٰ | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق | ۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **بورد ملی آیوده سازی نمک** | |
| مادهٔ پنجم: | بورد ملی | ۵ |
| مادهٔ ششم: | وظایف بورد ملی | ۷ |
| | **فصل سوم** | |
| | **تولید وتوزیع نمک آیودین دار** | |
| مادهٔ هفتم: | اخذ جواز فعالیت | ۹ |
| مادهٔ هشتم: | شرایط اعطای جواز فعالیت | ۹ |
| مادهٔ نهم: | تصدیق کورس تربیوی | ۱۱ |
| مادهٔ دهم: | تصدیق تجزیهٔ محصولات نهایی شده | ۱۱ |
| مادهٔ یازدهم: | ایجاد نمایندگی در ولایات | ۱۲ |
| مادهٔ دوازدهم: | معیارهای ایجاد فابریکه | ۱۲ |

فصل چهارم

مکلفیت ها

مادۀ سیزدهم: مکلفیت وزارت صحت عامه.........۱۴
مادۀ چهاردهم: تأمین کیفیت..ب.......................................۱۵
مادۀ پانزدهم: مکلفیت تولید کننده.................................۱۸
مادۀ شانزدهم: مواد علاوه شونده.................................. ۱۸
مادۀ هفدهم: تحریرمطالب روی پاکت.........................۱۹
مادۀ هجدهم: شرایط ذخیره ، انتقال وفروش................۲۰
مادۀ نزدهم: فروش نمک آیوده شده..............................۲۱
مادۀ بیستم: مکلفیت وزارت تجارت وصنایع.................۲۲
مادۀ بیست ویکم: مکلفیت ادارۀ حمایه ازسرمایه گذاری (آیسا)......۲۲
مادۀ بیست ودوم: مکلفیت وزارت معادن ...........................۲۳

فصل پنجم

احکام نهایی

مادۀ بیست وسوم: موارد تأدیبی ........................................۲۴
مادۀ بیست وچهارم: کنترول ، بررسی ونظارت.........................۲۵
مادۀ بیست وپنجم: جواز فعالیت مجدد...............................۲٦
مادۀ بیست وششم: فروش فابریکۀ آیوده سازی نمک..................۲٦
مادۀ بیست وهفتم: ترتیب فورمه ........................................۲۸
مادۀ بیست وهشتم: پرداخت مالیات.......................................۲۸

مادهٔ بیست ونهم: وضع طرزالعمل ها..................................۲۸
مادهٔ سی ام: انفاذ..............................................۲۹

## د مالګې د آيودې کولو
## مقرره
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د عامې روغتيا د قانون په دري ديرشمه ماده کې د درج شوي حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د مالګې د آيودې کولو تعميم.

۲- له آيوډين لرونکې مالګې څخه د ګټې اخيستنې ټوليز کول.

۳- دخلکو د روغتيا وقايه اوښه والی.

۴- د جسمي او ذهني پرمختګ پياوړتيا.

۵- د مناسبې تغذۍ د زمينې

## مقررۀ
## آيوده سازی نمک
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين مقرره به تأسی از حکم مندرج مادۀ سی وسوم قانون صحت عامه، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين مقرره عبارتند از:

۱ – تعميم آيوده سازی نمک.

۲– همگانی ساختن استفاده از نمک آيودين دار .

۳ – وقايه و بهبود صحت مردم .

۴– تقويت انکشاف جسمی وذهنی.

۵ – فراهم آوری زمينۀ تغذيۀ

برابرول.

٦- د آيوډين له کموالي څخه د را پيدا شوو تشوشاتو پرعليه مبارزه.

٧- دمايکرونيوترنتونو له نشتوالي څخه دراپيداشوې سوء تغذی- راتيټول.

٨- د تغذي د حالت ښه والی په خاصه د اطفالو او ښځو تغذي.

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

پدې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې د لاندې مفاهيمو لرونکي دي:

١- دمالګې آيوده کول: د ټاکل شوي معيار مطابق له مالګې سره د آيوډين له علاوه کولوڅخه عبارت دي چې د انساني او حيواني لګښت په منظور، له هغې څخه ګټه اخيستل کېږي.

٢- د آيوډين کموالی: د آيوډين له نشتوالي څخه عبارت دی چې د

مناسب.

٦ – مبارزه عليه تشوشات ناشی از کمبود آيودين.

٧- کاهش سوء تغذی ناشی از فقدان مايکرونيوترنت ها.

٨- بهبود حالت تغذی به خصوص تغذی اطفال وزنان.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در اين مقرره دارای مفاهيم ذيل می باشد:

١- آيوده سازی نمک: عبارت ازعلاوه کردن آيودين مطابق معيار معينه به نمک است که به منظور مصرف انسانی و حيوانی از آن استفاده می گردد.

٢- کمبود آيودين: عبارت از فقدان آيودين است که

اشخاصو په وړاندې د جسمي او ذهني توانايي د راټيټيدو سبب ګرځي.

۳- د آيوډين له کموالي څخه راپيدا شوي مرضونه: له جاغور، جسمي او ذهني وروسته پاتې والي، د کريتينيزم د ذهني او فزيکي نقصانونو او د جنين له متکررو سقطونوڅخه، عبارت دي.

۴- د غذا د خدمتونو تأسيسات: له هوټلونو، رستورانتونو، په دولتي او غير دولتي اداروکې د غذا د برابرولو او پخولو مرکزونه او نور هغه تأسيسات چې غذا وړاندې کوي يا پلوري څخه، عبارت دي.

۵- وېشونکی: له هغهٔ حقيقي او حکمي شخص څخه عبارت دی چې آيوډين لرونکې مالګه وړاندې کوي.

٦- توليدوونکی: له هغهٔ حقيقي اوحکمي شخص څخه عبارت دی

سبب کاهش توانایی جسمی و ذهنی نزد اشخاص می گردد.

۳- امراض ناشی ازکمبود آیودین: عبارت از جاغور ، عقب مانی جسمی و ذهنی، نقصانات ذهنی وفزیکی کریتینیزم و سقط های متکررجنین می باشد.

۴- تأسیسات خدمات غذا: عبارت ازهوتل ها، رستورانت ها، مراکز تهیه وطبخ غذا در ادارات دولتی و غیر دولتی وسایر تأسیساتی که غذا را عرضه ویا بفروش می رسانند.

۵- توزیع کننده: عبارت از شخص حقیقی یا حکمی است که نمک آیودین دار را عرضه می نماید.

٦- تولید کننده : عبارت از شخص حقیقی یا حکمی است که

چې آيوډين لرونکې مالګه توليد او وېشي.

۷- د مايکرونيوترنتونو نشتوالي: د ويټامينونو او منرالونو (کاني موادو) له کموالي څخه عبارت دی چې د تشوشاتو سبب ګرځي.

۸- آيوډين لرونکې مالګه: له هغې مالګې څخه عبارت ده چې په هغې کې د علمي معيارونو مطابق د آيوډين ټاکل شوی مقدار علاوه شوی وي، د هغې وروستنی محصول د بلور يا پوډر په ډول ، د سپين رنګ لرونکی، د ختې، شګې، وړو تېږو يا نورو اضافي موادو او د ليدلو وړ داغونو پرته، وي.

۹- د مالګې غني کول: د آيوډين له کموالي څخه د مخنيوي په منظور په مالګه کې په ټاکلي مقدار سره د پوټاشيم آيوديت ($KIO_3$) له علاوه کولو څخه عبارت دي.

نمک آيودين دار را توليد و توزيع مى نمايد .

۷ – فقدان مايکرونيوترنت ها : عبارت از کمبود ويتامين ها و منرال ها (مواد معدنى)که سبب تشوشات مى گردد .

۸- نمک آيودين دار:عبارت از نمکى است که مطابق معيارهاى علمى مقدار معينۀ آيودين در آن علاوه گرديده ، محصول نهايى آن به شکل بلور ويا پودر ، داراى رنگ سفيد، بدون لکه هاى قابل مشاهدۀ گل ، ريگ ، سنگريزه ويا مواد اضافى ديگر باشد .

۹-غنى سازى نمک: عبارت از علاوه نمودن پوتاشيم آيوديت ($KIO_3$) در نمک است به مقدار معين به منظور جلوگيرى از کمبود آيودين .

۱۰- دمالګې دآيوډې کولو مرحله: د آيوډين د ستندرد پمپ په واسطه، پـر مـالګې بانـدې د پوتاشـيم آيوديت(($KIO_3$) )د آبي محلول له شيندلوڅخه عبارت ده.

<u>د تطبيق ساحه</u>

څلورمه ماده:

ددې مقررې حکمونه پـر لانـدې حقيقي او حکمي اشخاصو باندې د تطبيق وړ دي:

۱- د آيوډين لرونکـې مـالګې توليدوونکي او وېشونکي.

۲- د غذايي خدمتونو تأسيسات.

## دوه يم فصل

## د مالګې د آيوډې کولو ملي بورډ

<u>ملي بورډ</u>

پنځمه ماده:

(۱) د مالګې د آيوډې کولو ملـي بورډ د مالګې د آيوډې کولو پـه

۱۰- مرحله آيوده سازی نمک : عبارت از افشاندن محلول آبـی پوتاشيم آيوديت($KIO_3$) است توسط آيودين پمپ ستندرد بالای نمک.

<u>ساحۀ تطبيق</u>

مادۀ چهارم:

احکام اين مقرره بالای اشـخاص حقيقی وحکمی ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱- توليد کننـدگان و توزيـع کنندگان نمک آيودين دار.

۲- تأسيسات خدمات غذايی.

## فصل دوم

## بورد ملی آيوده سازی نمک

<u>بوردملی</u>

مادۀ پنجم :

(۱) بورد ملی آيوده سازی نمک عاليترين مرجع تـصميم گيـری

چارو پورې اړونده د تصميم نيونې تر ټولو لوړه مرجع ده چې په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱- د عامې روغتيا وزير د رئيس په توګه.

۲- د کانونو وزارت واکمن استازى د مرستيال په توګه.

۳- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

۴- د سوداګرۍ او صنايعو وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

۵- د پوهنې وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

٦- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

۷- د ماليې وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

۸- د کورنيو چارو وزارت واکمن استازى د غړي په توګه.

۹- د کابل ښاروالۍ واکمن استازى

درامور مربوط به آيوده سازى نمک مى باشد که به ترکيب ذيل ايجاد مى گردد:

۱ - وزير صحت عامه به حيث رئيس .

۲- نمايندۀ با صلاحيت وزارت معادن به حيث معاون .

۳- نمايندۀ با صلاحيت وزارت زراعت، آبيارى ومالدارى به حيث عضو.

۴- نمايندۀ با صلاحيت وزارت تجارت و صنايع به حيث عضو.

۵- نمايندۀ با صلاحيت وزارت معارف به حيث عضو.

٦ - نمايندۀ با صلاحيت وزارت اطلاعات و فرهنگ به حيث عضو.

۷- نمايندۀ با صلاحيت وزارت ماليه به حيث عضو.

۸- نمايندۀ با صلاحيت وزارت امور داخله به حيث عضو.

۹- نمايندۀ با صلاحيت شاروالى

د غړي په توګه.

۱۰- د ملـــي ســـتندرډ د ادارې واکمن استازی د غړي په توګه.

۱۱- له پانګې اچـــونې څخـــه د ملاتړد ادارې (آیسا) واکمن استازی د غړي په توګه.

۱۲- د مالګې د اتحادیې واکمـــن استازی د غړي په توګه.

(۲) د نومورړي بورډ سکرتریت، د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذیې آمریت په غاړه لري.

(۳) د مالګې د آیودې کولو ملـــي بورډ غونډه په هرو شپږو میاشتوکې یو ځل دایره او د اړتیا په صـــورت کې په فوق العـــاده توګـــه هـــم جوړیږي.

د ملي بورډ دندې

شپږمه ماده:

د مالګې د آیودې کولو ملي بورډ د لاندې دندو او واکونو لرونکـــی دی:

کابل به حیث عضو.

۱۰- نمایندۀ با صـــلاحیت ادارۀ ملی ستندرد به حیث عضو.

۱۱- نمایندۀ با صـــلاحیت ادارۀ حمایه از سرمایه گذاری (آیسا)به حیث عضو.

۱۲-نمایندۀ با صلاحیت اتحادیۀ نمک به حیث عضو.

(۲) سکرتریت بورد مـــذکور را آمریت تغذی عامۀ وزارت صحت عامه به عهده دارد.

(۳) جلـــسۀ بـــوردملی آیـــوده سازی نمک در هر شش ماه یکبار دایـــر و درصـــورت ضـــرورت طور فوق العـــاده نیـــز تـــدویر می یابد.

وظایف بورد ملی

مادۀ ششم:

بورد ملی آیوده سازی نمک دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- د آیوډین لرونکـــي مـــالګې د آیودې کولو د پالیسۍ او ستراتیژۍ طرح کول.

۲- د آیوډین لرونکـــې مـــالګې د آیودې کولـــو د پروګرامونـــو او فعالیتونو هم غږي.

۳- د آیوډین لرونکې مالګې د ټولیز آیودې کولو د ګټورو فعـــالیتونو تحلیل او تجزیه.

۴- وزیرانو شوري ته د مـــالګې د آیودې کولو د ملي بورډ د کلنـــي رپوټ وړاندې کول.

۵- ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوي جدول د معیارونو او ستندرډونو په اړه، نوې کتنې.

۶- ددې مقررې له حکمونوڅخه څارنه.

۱- طرح پالیـــسی واســـتراتیژی آیـــــوده ســـــازی نمـــــک آیودین دار.

۲- همـــآهنگی پـــروگـــرام ها و فعـــالیت هـــای آیوده سازی نمک آیودین دار.

۳- تحلیل وتجزیهٔ مؤثر فعالیـــت های آیوده سازی همگانی نمـــک آیودین دار.

۴- ارایهٔ گزارش سالانهٔ بورد ملی آیوده سازی نمک بـــه شـــورای وزیران .

۵- تجدید نظر در مورد معیارها وستندردهای جدول مندرج ضمیمهٔ شماره(۱) این مقرره.

۶- نظارت از تطبیق احکام ایـــن مقرره.

## دریيم فصل
## د آيوډين لرونکې مالګې توليد او وېش

### د فعاليت د جواز اخيستل

**اوومه ماده:**

حقيقي او حکمې اشخاص مکلف دي، د آيوډين لرونکې مالګې د توليد او وېش په منظور، د عامې روغتيا له وزارت څخه د فعاليت جواز ترلاسه کړي.

### دفعاليت دجواز ورکولو شرايط

**اتمه ماده:**

(۱) د آيوډين لرونکې مالګې د توليد او وېش جواز د لاندې سندونو په وړاندې کولو سره ورکول کېږي:

۱- عامې روغتيا وزارت ته ليکلی غوښتنليک.

۲- د فابريکې د مالک او رئيس شهرت او عکس.

۳- د پانګې اچونې له ملاتړې

## فصل سوم
## توليد وتوزيع نمک آيودين دار

### اخذ جواز فعاليت

**مادۀ هفتم:**

اشخاص حقيقى وحکمى مکلف اند، به منظور توليد وتوزيع نمک آيودين دار جواز فعاليت را از وزارت صحت عامه بدست آورند.

### شرايط اعطاى جواز فعاليت

**مادۀ هشتم:**

(۱) جواز فعاليت توليد وتوزيع نمک آيودين دار با ارايۀ اسناد ذيل اعطاء مى گردد:

۱- درخواست کتبى به وزارت صحت عامه.

۲- شهرت وعکس مالک و رئيس فابريکه.

۳-کاپى جواز فعاليت از

اداري (آيسا) څخه د فعاليت د جواز کاپی.

۴-د توليدي فابريکې دقيقه پته.

۵- د حق الامتياز په نوم په بانک کې د دولت د وارداتو حساب ته د دېرشـو زرو (۳۰۰۰۰) افغـانيو تحويلول.

(۲) هغه شخص د آيوډين لرونکې مالګې د توليد فابريکه جوړولای شي چې د اتلس کلنۍ سن يې بشپړ کړی وي.

(۳) که چېرې د مالګې د آيـودې کولو فابريکه، د جواز د اخيستلو له نېټې څخه د يوکال مودې په تـرڅ کې ونشي کړای خپل فعاليت پيل کړي، د هغې د فعاليت جواز لـه اعتبارڅخه ساقطېږي.

(۴) ددې مادې په (۱) فقره کې د فعاليت د درج شوي جوازد اعتبار موده درې کاله ده.د جواز لرونکی کولای شي، د جواز د اعتبـار د

ادارۀ حمایه از سـرمایه گـذاری (آیسا).

۴- آدرس دقیق فابریکۀ تولیدی .

۵- تحویل مبلـغ سـی هـزار (۳۰۰۰۰) افغـانی بـه عنـوان حق الامتیاز به حـساب واردات دولت در بانک.

(۲) شخصی فابریکۀ تولید نمک آیودین دار را ایجاد کرده می تواند که سن هجده سالگی را تکمیـل نموده باشد .

(۳) هرگاه فابریکۀ آیوده سـازی نمک نتواند در خلال مدت یـک سال از تـاریخ اخـذ جـواز ، فعالیت خویش را آغـاز نمایـد، جواز فعالیت وی از اعتبار ساقط می گردد.

(۴) مدت اعتبار جواز فعالیـت منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده سه سال مـی باشـد. دارنـدۀ جـواز مـی توانـد بعـد از

موديٍ له پایته رسېدو وروسته، ددې مادې د (۱) فقرې په (۵) جزء کې د درج شوي نیمـايي مبلـغ پـر ورېاندې، اړوند جواز نوی کړي.

## د روزنیزکورس تصدیق

نهمه ماده:

تولیدوونکی چې د مالګې د آیودې کولو په فعالیت بوخت دی مکلف دی، د فعالیت له پیل څخه دمخه، د روزنیز کـورس تصدیق دعـامې روغتیا له وزارت څخه ترلاسه کړي.

## د وروستنیو محصولاتو د تجزیې تصدیق

لسمه ماده:

تولیدوونکی مکلف دی، د آیوډین لرونکې مالګې له پلورلوڅخه دمخه، د وروستنیو محصولاتو د تجزیـې تصدیق د عامې روغتیا لـه وزارت څخه ترلاسه کړي.

ختـم مـدت اعتبـار جـواز دربرابرنصف مبلغ مندرج جزء (۵) فقرهٔ (۱) این ماده جواز مربوط را تجدید نماید.

## تصدیق کورس تربیوی

مادهٔ نهم :

تولید کنندهٔ که مصروف فعالیت آیوده سازی نمک می باشد مکلف است، قبل ازشروع فعالیت، تصدیق کورس تربیوی را از وزارت صحت عامه بدست آورد.

## تصدیق تجزیهٔ محصولات نهایی شده

مادهٔ دهم:

تولید کننده مکلف است ، قبل از فروش نمک آیودین دار تـصدیق تجزیهٔ محصولات نهـایی شـده را از وزارت صحت عامه بدست آورد.

**په ولايتونوکې د نمايندګي رامنځته کول**

**يوولسمه ماده:**

توليدوونکی کولای شي په ولايتونو او نوروځايونوکې نمايندګي جوړه کړي، پدې شرط چې ددې مقررې د اتمې مادې د (۱) فقرې په (۵) جزء کې درج شوی حق الامتياز ورکړي او د فعاليت جواز ترلاسه کړي.

**د فابريکې درامنځته کولو معيارونه**

**دوولسمه ماده:**

د آيوډين لرونکې مالګې د توليد فابريکه د لاندې معيارونو لرونکې وي:

۱- لږترلږه د شپږو ميليونو (٦۰۰۰۰۰۰) افغانيو لومړنۍ پانګې درلودل.

۲- لږترلږه د (۱۲۰۰) مترمربع

**ايجاد نمايندگی در ولايات**

**مادهٔ يازدهم:**

توليد کننده می تواند نمايندگی را در ولايات و ساير محلات ايجاد نمايد ، مشروط بر اينکه حق الامتياز مندرج جزء (۵) فقرهٔ (۱) مادهٔ هشتم اين مقرره را پرداخته و جواز فعاليت را کسب نمايد.

**معيار های ايجاد فابريکه**

**مادهٔ دوازدهم:**

فابريکهٔ توليد نمک آيودين دار دارای معيار های ذيل می باشد:

۱- داشتن سرمايهٔابتدايی حد اقل شش ميليون (٦۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۲- داشتن مساحت حداقل

مساحت درلودل.
۳–لږترلږه په في ساعت کې د(۵) متريک ټنو پورې د توليدي ظرفيت درلودل.
۴– د چاپېريال ساتنې د قانون د معيارونو درلودل.
۵– د دوو مسلکي يا روزل شوي لابرانتانو درلودل.
٦– د آيوډين په يوميليونمه برخه کې له (۳۰څخه تر۵۰) برخی پورې( د شيندلو په ډول) د ستندرډ په اندازه د مالګې د مخلوطولو د ظرفيت لرونکي ماشين درلودل.
۷– په مالګه کې د آيوډين د مقداري تجزيې د اجرأ لپاره د مجهز لابراتوار درلودل.
۸– د بين المللي معيارونو مطابق د آيوډين لرونکې مالګې د توليد په اړه، تعهد.
۹– د صحي اوبو درلودل او د شخصي او چاپېريااليزې

(۱۲۰۰) مترمربع .
۳– داشتن ظرفيت توليدی (۵) تن متريک در فی ساعت.
۴– داشتن معيارهای قانون حفاظت محيط زيست .
۵– داشتن دو لابرانت مسلکی و يا آموزش ديده .
٦– داشتن ماشين دارای ظرفيت مخلوط کردن نمک به اندازۀ ستندرد (۳۰ الی۵۰ ) حصه آيودين دريک ميليون ام حصۀ نمک (بشکل افشان) .
۷– داشتن لابراتوار مجهز برای اجرای تجزيۀ مقداری آيودين در نمک.
۸– تعهد مبنی بر توليد نمک آيودين دار طبق معيارهای بين المللی.
۹– داشتن آب صحی ومراعات حفظ الصحۀ شخصی

حفظ الصحې په پام کې نیول.

۱۰- د موادو د تولیدولو او زېرمه کولو لپاره، د مناسب ځای درلودل.

۱۱- د آیوډین پمپ د ستندرډ ماشین درلودل.

## څلورم فصل

## مکلفیتونه

**د عامې روغتیا وزارت مکلفیت**

دیارلسمه ماده:

(۱) د عامې روغتیا وزارت د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوو معیارونو او ستندرډونو تطبیقول.

۲- په ټول هېواد کې د آیوډین لرونکې مالګې له کیفیت څخه څارنه.

۳- د آیوډین لرونکې مالګې له پرمختیا او تداوم څخه ملاتړ.

۴- د آیوډین لرونکې مالګې د

ومحیطی.

۱۰- داشتن محل مناسب برای تولید وذخیرهٔ مواد.

۱۱-داشتن ماشین آیودین پمپ ستندرد.

## فصل چهارم

## مکلفیت ها

**مکلفیت وزارت صحت عامه**

مادهٔ سیزدهم:

(۱) وزارت صحت عامه دارای مکلفیت های ذیل می باشد :

۱- تطبیق معیارها وستندرد های جدول مندرج ضمیمهٔ شماره (۱) این مقرره.

۲- نظارت از کیفیت نمک آیودین داردر سراسر کشور.

۳- حمایت از انکشاف وتداوم صنعت نمک آیودین دار .

۴- تهیه وترتیب لست تولید

تولیدوونکو دلست ترتیب او برابرول.

۵- د مالګې د آیودې کولو د پروګرام په تطبیقولوکې د دولتي او غیر دولتي ادارو د همکارۍ جلبول.

٦- د پوهنې او اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو په همکارۍ د آیوډین لرونکې مالګې د استعمال له ګټو څخه د خلکو خبرول.

(۲) ددې مقررې د (۱) فقرې په (۴) جزء کې درج شوی لست د لاندې محتویاتو لرونکی دی:

۱- د تولیدوونکي نوم.

۲- د امتیازد خاوندد تیلیفون شمېره او د فابریکې او شرکت پته.

۳- کلنی تولیدي ظرفیت.

۴- د آیوډین لرونکې مالګې د وېشلوځای اودوېشونکی نوم.

## د کیفیت تأمینول

**څوارلسمه ماده:**

د آیودې شوې مالګې تولیدوونکی

کننده گان نمک آیودین دار.

۵- جلب همکاری ادارات دولتی وغیردولتی درتطبیق پروگرام آیوده سازی نمک.

٦- آگاه ساختن مردم از فواید استعمال نمک آیودین دار به همکاری وزارت های معارف واطلاعات وفرهنگ .

(۲) لست مندرج جزء (۴) فقرۀ (۱) این ماده دارای محتویات ذیل می باشد:

۱- اسم تولید کننده .

۲- نمبر تیلیفون صاحب امتیاز و آدرس فابریکه و شرکت.

۳- ظرفیت تولیدی سالانه .

۴- محل توزیع و اسم توزیع کنندۀ نمک آیودین دار.

## تأمین کیفیت

**مادۀ چهاردهم:**

تولید کنندۀنمک آیوده شده مکلف

مکلف دی، د مالگې له وېشلو دمخه لاندې کتنې ترسره کړي:

۱- په هر توليدي ساعت کې په متناوب صورت او مشخصو وقفو سره په ورځ کې يو تر دوه ځلې پورې ، دآيودين مقدارکتل کېږي، د آيوډين لرونکو مالگو نمونې بايد د توليد له کرښې څخه راټولې شي او د تثبيت لپاره په هغې کې د شته آيوډين مقدار وکتل شي.

۲- لږترلږه په ورځ کې دوه ځلې دې د تجهيزاتو پلټنه صورت ومومي اود هغوله سم فعاليت څخه ډاډ تر لاسه شي.

۳- د مخلوطولو په مرحله کې د آيوډين د مقدار د توليد او بسته بندۍ په بهيرکې له سم او متجانسو مخلوطولوڅخه بايد په منظم ډول څارنه صورت ومومي، ډاډ ترلاسه شي.

۴- د څارنې په منظور، له هغې

است ، قبل از توزيع نمک معاينات ذيل را اجرأ نمايد :

۱- معاينۀ مقدار آيودين روزانه به صورت متناوب و وقفه های مشخص يک الی دوبار در هر ساعت توليدی ، نمونه های نمک آيودين دار بايد از خط توليد جمع آوری گرديده و برای تثبيت مقدار آيودين موجود در آن معاينه گردد.

۲- تفتيش تجهيزات حد اقل دو بار در روزصورت گرفته و از فعاليت درست آنها اطمينان حاصل گردد.

۳ - در مرحلۀ مخلوط کردن بايد بصورت منظم از مخلوط کردن درست و متجانس مقدار آيودين در جريان توليد وبسته بندی نظارت صورت گرفته ،اطمينان حاصل گردد.

۴- به منظور نظارت از نمکی که

مالگې څخه چې د وېشلو لپاره آماده شوې هره بسته باید نمونه ګیري شي، څو د ټاکل شوي آیوډین له مقدار سره مطابقت ولري.

۵- د کڅوړې رنګ، د عامې روغتیا د وزارت ستندرډ علامه او د فابریکې سوداګریز نښان دې مشخص وي. له بسته بندۍ او نوم ورکونې څخه څارنه باید په دوامداره توګه صورت ومومي، څو آیودې شوې مالګې د کڅوړو، لیبل او د کڅوړې د ډول سموالي او ټینګښت، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوي جدول،مطابق وي.

٦- د ورځني کنترول د چارتونو ساتل او د اوونیزو فعالیتونو لنډیز او ترسره شوي اجراآت باید لږترلږهٔ د آیودې شوې مالګې د تولید له نېټې څخه د یوکال لپاره،وساتل شي.

برای توزیع آماده گردیده هربسته باید نمونه گیری شود تا به مقدارآیودین تعیین شده مطابقت داشته باشد.

۵- رنگ پاکت، علامهٔ ستندرد وزارت صحت عامه و نشان تجارتی فابریکه مشخص باشد. نظارت از بسته بندی وصحت نامگذاری باید به صورت دوامدار صورت گیرد تا صحت واستحکام پاکت ها، لیبل ونوع پاکت نمک آیوده شده مطابق جدول مندرج ضمیمهٔ شماره (۱) این مقرره باشد.

٦- نگهداشتن اسناد چارت های کنترول روزانه و خلاصهٔ فعالیت های هفته وار و اجراآت انجام یافته باید حد اقل برای یک سال از تاریخ تولید نمک آیوده شده حفاظت و نگهداری شود.

## د توليدوونکي مکلفيت

**پنځلسمه ماده:**

(۱) توليـــدوونکی مکلـــف دی، آيوده شوې مالگه په اوبدل شـــوو پولي پروپايلين کڅوړو يا دولايـــه کڅوړوکې چې باندنی استر يـــې د نخي (جوت) د بوجۍ په پاکو، نه استعمال شـــوو کڅوړوکې يا نورو هغو موادوکې چې سوري ونه لري او دهغو آستر لـــه کلـــک پـــولي پروپايلين څخه جوړ شـــوی وي، بسته بندي کړي.

(۲) توليدوونکی نشي کولای کُنده او نه آيوده شوې پـــوډري مالگـــه وپلوري.

## علاوه کېدونکي مواد

**شپاړسمه ماده:**

توليدوونکی مکلف دی، په مالگه کې ثانوي علاوه کېدونکي مواد د نړۍ د روغتيا د سازمان د گـــډې کميټې د معيـــارونو د کـــود او د

## مکلفيت توليد کننده

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) توليد کننده مکلف اســـت، نمک آيوده شده را در پاکت های ساخته شـــدۀ پـــولی پروپـــايلين و يا خريطه های دو لايه که استر بيرونی آن ازخريطه هـــای پـــاک استعمال ناشدۀ بوجی نخی (جوت) ويا مواد ديگر که سوراخدارنباشد و آسترآن از پولی پروپايلين محکم ســـاخته شده باشد، بسته بنـــدی نمايد.

(۲) توليد کننده نمی تواند نمک کنده ونمک پودری بدون آيـــوده شده را به فروش رساند.

## مواد علاوه شونده

**مادۀ شانزدهم:**

توليد کننده مکلف اســـت،مواد علاوه شوندۀ ثانوی در نمـــک را مطابق کـــود معيارهـــای کميتـــۀ مشترک سازمان صـــحی جهـــان

ملګرو ملتونو د کرنې د خوراک د اداري (JECFA) (Joint Expert Committee on Food Additives) مطابق، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضميمه کې له درج شوي جدول سره سم په مالګه کې علاوه کړي.

## د کڅوړې پرمخ د مطالبو ليکل

**اوولسمه ماده:**

توليدوونکی مکلف دی، د کڅوړې يا آيودې شوې مالګې د پاکټونو پرمخ لاندې مطالب وليکي:

۱- د مالګې نوم ( آيوده شوې مالګه) د لوستلو په وړ او څرګندو تورو سره.

۲- د فابريکې نوم او پته.

۳- د اجازه ليک يا لايسنس نمبر.

۴- په متريک واحد سره خالص وزن.

۵- د آيوډين مرکب چې د ګټې اخيستنې وړ ګرځېدلی.

٦- په مالګه کې د آيوډين سطح.

وادارهٔ خوراک زراعت ملل متحد (JECFA) (Joint Expert Committee on Food *Additives)* طبق جدول مندرج ضميمهٔ شماره (۱) اين مقرره در نمک علاوه نمايد.

## تحرير مطالب روی پاکت

**مادهٔ هفدهم:**

توليد کننده مکلف است ، مطالب ذيل را روی پاکت يا خريطه های نمک آيوده شده تحرير نمايد:

۱- اسم نمک (نمک آيوده شده ) به حروف خوانا و واضح.

۲- اسم و آدرس فابريکه.

۳- نمبر اجازه نامه يا لايسنس.

۴- وزن خالص به واحد متريک.

۵- مرکب آيودين که مورد استفاده قرارگرفته.

٦- سطح آيودين در نمک.

۷- کیمیاوي اضافه شوي مواد (د کلکېدو ضد مواد او ایملسیفای کوونکي مواد).

۸- د تولید او انقضأ نېټه.

۹- د بسته بندۍ د پېژندلوکود (Batch Number) ( دوباره بسته بندي کوونکي باید د بسته بندۍ د پېژندلو له کود څخه ګټه واخلي).

۱۰- د موادو د زېرمه کولو په غرض لارښوونه، ( باید په ساړه او وچ د لمر له وړانګې څخه لیرې زېرمه شي).

۱۱- د عامې روغتیا وزارت تأیید شوې علامه یا لوګو.

۱۲- له آیوده شوې مالګې څخه د ګټې اخیستنې د اغېزمنتوب په اړه معلومات.

## د زېرمه کولو، لېږدولو او پلورلو شرایط

اتلسمه ماده:

تردغو شرایطو لاندې آیوده شوې

۷- مواد اضافه شدۀ کیمیاوی (مواد ضد سخت شدن و مواد ایملسیفای کننده ).

۸- تاریخ تولید و انقضأ.

۹- کود شناسایی بسته بندی (Batch Number) (دوباره بسته بندی کنندگان باید ازکود شناسایی بسته بندی استفاده نمایند).

۱۰- هدایت غرض ذخیرۀ مواد (باید در جای سرد و خشک دورازشعاع آفتاب ذخیره شود).

۱۱- علامه یا لوگوی تأیید شدۀ وزارت صحت عامه.

۱۲- معلومات درمورد مفیدیت استفاده از نمک آیوده شده.

## شرایط ذخیره، انتقال و فروش

مادۀ هجدهم:

نمک آیوده شده تحت شرایط ذیل

مالګه زېرمه، لېږدول او پلورل کېږي:

۱- د لمر له مستقیمې وړانګې او د روښانې له پیاوړې نږدې سرچینې څخه مخنیوی.

۲- د حرارت او رطوبت له لوړې درجې څخه مخنیوی.

۳- له دوړې او غبار او ککړ چاپېریال څخه مخنیوی.

۴- په سرتړلو او د هوا په پوره تهویه لرونکو ځایونوکې ساتنه.

۵- د اتاق له سطحې څخه د (۴) انچو لوړوالي په ارتفاع ساتنه.

٦- د اتاق له دېوال سره له تماس څخه مخنیوی.

د آیودې شوې مالګې پلورل

نولسمه ماده:

(۱) آیوده شوې مالګه دې د تولید له نېټې څخه د یوکال مودې په ترځ کې په پرچون پلورنځیو کې وپلورل شي او د انقضأ له نېټې

ذخیره، انتقال وبه فروش می رسد:

۱- جلوگیری ازشعاع مستقیم آفتاب و منبع نزدیک روشنی قوی.

۲- جلوگیری ازدرجهٔ حرارت و رطوبت بلند.

۳- جلوگیری ازگرد وغبارو محیط ملوث.

۴ - نگهداری درجاهای سر بسته و دارای تهویهٔ کافی .

۵- نگهداری به ارتفاع ( ۴) انچ بلندتراز سطح اتاق .

٦- جلوگیری از تماس با دیوار اتاق.

فروش نمک آیوده شده

مادهٔ نزدهم:

(۱) نمک آیوده شده درخلال مدت یک سال از تاریخ تولید، درپرچون فروشی ها بفروش برسد و بعد از تاریخ انقضاء جهت

څخه وروسته دې، د تعويضولو لپاره اړوندې فابريکې يا پلورونکي يا وروستني وېشونکي ته ولېږل شي.

(۲) د فابريکې مالک مکلف دی، آيوډين لرونکې مالګه چې د هغې د ګټې اخيستنې نېټه پای ته رسېدلې وي بيا آيوده کړي.

د سوداګرۍ او صنايعو د وزارت مکلفيت

شلمه ماده:

دسوداګرۍ اوصنايعو وزارت مکلف دی، دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په همکارۍ د مالګې دآيودې کولو د تکنالوژۍ لېږدول ښه کړي.

له پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداري (آيسا) مکلفيت

يوويشتمه ماده:

له پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداره (آيسا) مکلفه ده، د مالګې ځايي صنعت کاران وهڅوي او د آيوډين

تعويض به فابريکهٔ مربوطه يا به فروشنده ويا توزيع کنندهٔ آخرى فرستاده شود.

(۲) مالک فابريکه مکلف است، نمک آيودين دار را که تاريخ استفادهٔ آن ختم گرديده مجدداً آيوده سازى نمايد.

مکلفيت وزارت تجارت وصنايع

مادهٔ بيستم:

وزارت تجارت وصنايع مکلف است، به همکارى وزارت زراعت، آبيارى ومالدارى انتقال تکنالوژى آيوده سازى نمک را بهبود بخشد.

مکلفيت ادارهٔ حمايه از سرمايه گذارى (آيسا)

مادهٔ بيست ويکم:

ادارهٔ حمايه از سرمايه گذارى (آيسا) مکلف است، صنعت کاران محلى نمک راتشويق و زمينهٔ

لرونکې مالګې د تولید او وېش زمينه برابره کړي.

## د کانونو د وزارت مکلفیت

دوه ویشتمه ماده:

(۱) د کانونو وزارت مکلف دی، د قرارداد د عقد په وخت کې،د مالګې (خامې)کُندې له استخراجوونکي سره د ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوي جدول معیارونه په پام کې ونیسي.

(۲)استخراجوونکی مکلف دی، د مالګې د آیودې کولو په منظور،باکیفیته کُنده (خامه) مالګه، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوي جدول د معیارونو مطابق، استخراج کړي.

(۳) هېڅ شخص (استخراجوونکی، سوداګر او دکاندار) نشي کولای له آیوده کېدو پرته کُنده او پوډري مالګه، د انساني ګټې اخیستنې په غرض وپلوري.

تولید و توزیع نمک آیودین دار را فراهم نماید.

## مکلفیت وزارت معادن

مادهٔ بیست ودوم:

(۱) وزارت معادن مکلف است، حین عقد قرارداد با استخراج کنندهٔ نمک کنده(خام) معیارهای جدول مندرج ضمیمهٔ شماره(۱) این مقرره را درنظرگیرد.

(۲)استخراج کننده مکلف است، نمک کندهٔ (خام ) با کیفیت را به منظور آیوده سازی نمک مطابق معیارهای جدول مندرج ضمیمهٔ شماره (۱) این مقرره استخراج نماید.

(۳) هیچ شخص (استخراج کننده، تجار و دکاندار) نمی تواند نمک کنده وپودری بدون آیوده شده را غرض استفادهٔ انسانی به فروش برساند.

## پنځم فصل

## وروستني حکمونه

**تأديبي موارد**

**در ويشتمه ماده:**

(۱) د آيوډين لرونکـــي مـــالګې توليدوونکی او وېشونکی پدې مقرره کې له درج شوو حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې، په لاندې توګه تأديبېږي:

۱- لومړی ځل توصيه.

۲- دوه يم ځل ليکلی اخطار.

۳- درېيم ځـــل د پنځوســـو زرو (۵۰۰۰۰) افغانيو مبلغ ورکړه.

۴- څلـــورم ځـــل د ســـلو زرو (۱۰۰۰۰۰) افغانيو مبلغ ورکړه.

۵- پنځم ځل تر يوۀ کاله پورې د فعاليت د جواز تعليق.

(۲) ددې مادې د(۱) فقرې په (۳ او ۴) جزء کې درج شوي مبالغ د عامې روغتيا وزارت له خوا تحصيل

## فصل پنجم

## احکام نهايی

**موارد تأديبی**

**مادۀ بيست وسوم:**

(۱)توليد کننده و توزيع کننـــدۀ نمک آيـــودين دار در صـــورت تخلف از احکـــام منـــدرج ايـــن مقـــرره طـــور ذيـــل تأديـــب می گردد:

۱- مرتبۀ اول توصيه.

۲- مرتبۀ دوم اخطار کتبی.

۳- مرتبۀ سوم پرداخت مبلغ پنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی.

۴- مرتبۀ چهارم پرداخت مبلـــغ يک صد هزار(۱۰۰۰۰۰) افغانی.

۵ – مرتبۀ پنجم تعليـــق جـــواز فعاليت الی يکسال.

(۲) مبالغ مندرج اجزای (۳و ۴ ) فقرۀ (۱) اين ماده از طرف وزارت صحت عامه تحصيل وبه حـــساب

او د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحویلیږي.

## کنټرول، پلټنه او څارنه

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) د عامې روغتیا وزارت د درملو او غذايي موادو د کنټرول او کیفیت اداره مکلفه ده، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضمیمه کې د درج شوي جدول د معیارونو او ستندردونو له تطبیق څخه او د آیودې شوې مالګې څرنګوالی او د هغې د لګښت موده، کنټرول کړي.

(۲) د روغتیايي قوانینو له تطبیق څخه د پلټنې اداره مکلفه ده، ددې مقررې دحکمونو له تطبیق او د مالګې د آیودې کولو له نورو روغتیايي لارښوونو څخه څارنه وکړي.

(۳) د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذي اداره مکلفه ده، له تخنیکي پلوه د آیودې شوې مالګې د تولید

واردات دولت تحویل بانک می گردد.

## کنترول، بررسی ونظارت

**مادۀ بیست وچهارم:**

(۱)ادارۀ کنترول وکیفیت ادویه ومواد غذایی وزارت صحت عامه مکلف است، از تطبیق معیارها وستندرد های جدول مندرج ضمیمۀ شماره (۱) این مقرره وکیفیت نمک آیوده شده ومیعاد مصرف آن کنترول نماید.

(۲)ادارۀ بررسی از تطبیق قوانین صحی مکلف است، از تطبیق احکام این مقرره وسایر رهنمود های صحی آیوده سازی نمک نظارت نماید.

(۳) ادارۀ تغذی عامۀ وزارت صحت عامه مکلف است، ازلحاظ تخنیکی تولید وفروش نمک آیوده

او پلورلو،څارنه وکړي.

(۴) د عـــامې روغتيـــا وزارت د چاپيرياليزې روغتيا اداره مکلفه ده، له حفظ الصحوي نظره، د مالگې د آيودې کولو د فـــابريکې څارنـــه وکړي.

## د بيا فعاليت جواز

**پنځه ويشتمه ماده:**

د مالگې دآيودې کولو هغه فابريکې چې ددې مقررې له نافذېدو دمخه رامنځته شوي دي، مکلفـــې دي، ددې مقررې د نافذېدو له نېټې څخه دشپږو مياشتو مودې په ترځ کـــې، ددې مقررې په اتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق بيا د فعاليـــت جواز ترلاسه کړي.

## د مالگې د آيـــودې کولـــو د فابريکې پلورل

**شپږ ويشتمه ماده:**

(۱) د مالگې د آيـــودې کولـــو د

شده را نظارت نمايد.

(۴) ادارهٔ صحت محيطى وزارت صحت عامـــه مکلـــف اســـت، از نظر حفظ الصحوى، فابريکـــهٔ آيوده سازى نمـــک را نظـــارت نمايد.

## جواز فعاليت مجدد

**مادهٔ بيست وپنجم:**

فابريکـــات آيـــوده ســـازى نمک کـــه قبـــل از انفـــاذ ايـــن مقرره ايجاد گرديده، مکلف انـــد مجـــدداً جـــواز فعاليـــت را در خلال مدت شش ماه بعـــد از انفاذ اين مقرره طبق حکم مندرج مادهٔ هشتم اين مقـــرره کـــسب نمايند.

## فروش فابريکهٔ آيوده ســـازى نمک

**مادهٔ بيست وششم:**

(۱) فـــروش فابريکـــهٔ آيـــوده

فابريکې پلورل پدې مقرره کـې د درج شوو شرايطو لرونکي شخص ته مجاز دي. نوی مالک مکلف دی، جوازليک نوی او ددې مقــررې د اتمې مادې د (۱) فقرې په (۵) جزء کې درج شوی حق الامتياز د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويل کړي.

(۲) د قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره د مالکې د آيودې کولو د فابريکو د فعاليت د جواز لېږد، په لاندې احوالوکې پدې مقرره کې د درج شوو شرايطو لرونکي شخص ته صورت ومومي:

۱- د مالک دوفات په صورت کې.

۲- په صعب العلاجه نـاروغۍ د مالک د اخته کېدو په صورت کې چې دهغهٔ د دندې داجراء مانع شي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شـووحالاتوکې د مـالګې د آيودې کولو دفابريکې دفعاليت جواز

سازی نمک به شـخص واجـد شرايط مندرج اين مقرره مجـاز می باشد. مالک جديد مکلف است جواز نامه را تجديد وحق الا متياز مندرج جزء(۵) فقـرهٔ (۱)مـادهٔ هشتم اين مقرره را بــه حـساب واردات دولت تحويـل بانـک نمايد.

(۲) انتقال جواز فعاليت فابريکـهٔ آيوده سازی نمک بـا رعايـت احکام قانون در احوال ذيل بـه شخص واجـد شـرايط منـدرج ايـن مقـرره صـورت گرفتـه می تواند:

۱- در صورت وفات مالک.

۲- در صورت مصاب شدن مالک به مريضی صعب العلاجی که مانع اجرای وظيفهٔ وی شود.

(۳) در حالات مندرج فقـرهٔ (۲) اين ماده جواز فعاليت فابريکهٔ آيوده سازی نمـک بـدون پرداخـت

ددې مقررې داتمـــې مـــادې د(۱) فقرې په (۵) جزء کې د درج شوي حق الامتياز له ورکړې پرته، د وارث یا تملیکوونکِي په نوم تعدیلېږي.

## د فورمې ترتیب

اووه ویشتمه ماده:

د عامې روغتیا وزارت مکلف دی، له آیوډین لرونکې مالګې څخـــه د کنټرول، پلټنې او څارنې په منظور، بیلې فورمې برابـــرې، ترتیـــب او تنظیمې کړي.

## د مالیاتو ورکړه

اته ویشتمه ماده:

د مالګې د آیودې کولو د فابریکو مالکـــان مکلـــف دي، لــــه خپلوعوایدوڅخــــه د قــــانون د حکمونومطابق، مالیه ورکړي.

## د کړنلارو وضع کول

نهه ویشتمه ماده:

د عامې روغتیا وزارت کولای شي،

حق الامتیاز مندرج جزء(۵) فقرهٔ (۱) مادهٔ هشتم این مقرره به اسم وارث یا تملیک شـــونده تعـــدیل می گردد.

## ترتیب فورمه

مادهٔ بیست وهفتم:

وزارت صحت عامه مکلف است ، به منظور کنترول، بررسی ونظارت از نمک آیودین دار فورمه هـــای جداگانه را تهیه، ترتیب وتنظـــیم نماید.

## پرداخت مالیات

مادهٔ بیست وهشتم:

مـــالکین فابریکـــات آیـــوده سازی نمک مکلف اند از عوایـــد خویش طبق احکام قانون مالیـــه بپردازند.

## وضع طرزالعمل ها

مادهٔ بیست ونهم:

وزارت صحت عامه می تواند بـــه

ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، کړنلارې وضع کړي.

**انفاذ**

**دېرشمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

منظور تطبيق بهتر احکام اين مقرره طرزالعمل ها را وضع نمايد.

**انفاذ**

**مادۀ سی ام:**

اين مقرره ازتاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

## (۱) گڼه ضمیمه

**(۱) د آیوده شوې مالگې لپاره د مالگې خالص معیارونه:**

له (Codex Alimentarius Standards for Food Grade Salt) سره مطابق په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| د سودیم کلورايد تر ټولو لږ مقدار. | ۹۷٪ (وچ) |
| د رطوبت اعظمي حد. | ٪ ۰.۵ |
| **د فلزي ککړتيا اعظمي حد** | |
| ارسینک As. | ۰.۵ ملي گرام / کیلوگرام. |
| کدمیم Cd. | ۰.۵ ملي گرام / کیلوگرام. |
| سرب pb. | ۲ ملي گرام / کیلوگرام. |
| مس Cu. | ۲ ملي گرام / کیلوگرام. |
| سیماب Hg . | ۰.۱ ملي گرام / کیلوگرام. |

**(۲) د آیوډین مقدار:**

**ددې لپاره چې ملي غوښتنې رفع شي، په مالگه کې د آیوډین مقدار په لاندې ډول وي:**

| | |
|---|---|
| د تولید په ځای کې. | له ۳۰ ــ ۵۰ پي پي ام ( په میلیونمه برخه کې) یا په في کیلوگرام مالگه کې له ۳۰ ــ ۵۰ ملي گرامه پورې. |
| د بازار (مارکيټ) په سطح. | له ۳۰ ــ ۵۰ پي پي ام ( په میلیونمه برخه کې) یا په في کیلوگرام مالگه کې له ۳۰ ــ ۵۰ ملي گرامه پورې. |
| د کورنۍ په سطح. | له ۱۵ پي پي ام ( په میلیونمه برخه کې) یا په في کیلوگرام کې ۱۵ملي گرام. |
| د تولید او بازار له سطحې څخه د نمونې اخیستنې (عمده پلورل او پرچون پلورل)، اندازه. | ۱ تر ۲ کیلو گرامه پورې. |

(۳) په غذاګانوکې ثانوي علاوه کېدونکي مواد چې د JECFA ( join Expert Committee on Food Additives) کود مطابق علاوه کېږي، په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| ۱ــ پوښ ورکوونکي مواد | په وروستنۍ ماده کې د هغو مقدار. |
| د کلسیم کاربونیتونه یا مګنیشیم، مګنیشیم اوکساید، کلسیم فاسفیت، سلیکون دای اکساید، د مګنیشیم سیلیکیتونه یا کلسیم، سودیم المونیم سلیکیت او سودیم کلسیم سلیکیت. | له ۲ پي پي ام څخه په لږ غلظت سره یا په یوازیتوب یا مخلوطولو سره په یوکیلوګرامو کې ۲ملي ګرامه. |
| ۲ــ له رطوبت څخه ساتونکي مواد. | په وروستنۍ ماده کې د هغو مقدار. |
| د کلسیم المونیم مالګې، د سودیم یا پوتاشیم مالګې، مایرستیک اسید، پالمتیک یا ستریک اسید. | له ۲ پي پي ام څخه په لږ غلظت سره یا په یوازیتوب یا مخلوطولو سره په یوکیلوګراموکې ۲ملي ګرامه. |
| ۳ــ د مالګو دکرستلونو شکل ته بدلون ورکوونکی. | په وروستنۍ ماده کې د هغو مقدار. |
| کلسیم فیروسیانایتونه، پوتاشیم یا سودیم. | له ۱۰ پي پي ام څخه په لږ غلظت سره یا په یو کیلوګراموکې ۱۰ملي ګرامه. |
| ۴ــ ایملسیفای کوونکي. | په وروستنۍ ماده کې د هغو مقدار. |
| پولي سوربیت. | له ۱۰ پي پي ام څخه په لږ غلظت سره یا په یو کیلوګراموکې ۱۰ملي ګرامه. |
| ۵ــ کتلایزرونه. | په وروستنۍ ماده کې د هغو مقدار. |
| دای میتایل پولي سایکلوهګزان. | له ۱۰ پي پي ام څخه په لږ غلظت سره یا په یو کیلوګراموکې ۱۰ملي ګرامه. |

ضمیمۀ شماره (۱)

(۱) معیار های خالص بودن نمک برای نمک آیوده شده:

مطابق به(Codex Alimentarius Standards for Food Grade Salt)

قرار ذیل می باشد:

| | |
|---|---|
| کمترین مقدار سودیم کلوراید. | ۹۷٪ (خشک). |
| حد اعظمی رطوبت. | ۰،۵٪ |
| حد اعظمی آلودگی فلزی | |
| ارسنیک As . | ۰،۵ ملی گرام/کیلوگرام. |
| کدمیم Cd . | ۰،۵ ملی گرام/کیلوگرام. |
| سرب Pb. | ۲ ملی گرام/کیلوگرام. |
| مس Cu. | ۲ ملی گرام/کیلوگرام. |
| سیماب Hg. | ۰،۱ ملی گرام/کیلوگرام. |

(۲) مقدار آیودین:

برای اینکه تقاضای ملی مرفوع گردد، مقدار آ یودین در نمک قرارذیل می باشد:

| | |
|---|---|
| در محل تولید . | ۳۰- ۵۰ پی پی ام ( بخش در میلیون ام حصه). ویا ۳۰ - ۵۰ ملی گرام درفی کیلوگرام نمک. |
| درسطح بازار (مارکیت). | ۳۰- ۵۰ پی پی ام ( بخش در میلیون ام حصه). ویا ۳۰ - ۵۰ ملی گرام درفی کیلوگرام نمک . |
| درسطح خانواده . | کمتر از ۱۵ پی پی ام (بخش در میلیون ام حصه). ویا ۱۵ ملی گرام درفی کیلوگرام نباشد. |
| اندازۀ نمونه گیری از سطح تولیدوبازار (عمده فروشی وپرچون فروشی). | ۱ الی ۲ کیلو گرام. |

(۳) مواد علاوه شوندهٔ ثانوی به غذاها که مطابق کود JECFA (Joint Expert Committee on Food *Additives*) علاوه می گردد ، قرارذیل میباشد.

| | |
|---|---|
| ۱- مواد پوش دهنده. | مقدار آن در مادهٔ نهایی. |
| کاربونیت های کلسیم ویا مگنیشیم،مگنیشیم اوکساید،کلسیم فاسفیت ، سلیکون دای اوکساید، سیلیکیت های مگنیشیم ویا کلسیم ، سودیم المونیم سیلیکیت وسودیم کلسیم سیلیکیت. | به غلظت کمتر از ۲پی پی ام ویا ۲ ملی گرام در یک کیلوگرام به تنهایی ویا مخلوط. |
| ۲-مواد محافظت کننده ازرطوبت. | مقدار آن در مادهٔ نهایی |
| نمک های کلسیم المونیم ،نمک های سودیم ویا پتاشیم،مایرستیک اسید،پالمتیک ویاستیریک اسید. | به غلظت کمتر از ۲پی پی ام ویا ۲ ملی گرام در یک کیلوگرام به تنهایی ویا مخلوط . |
| ۳-تغییردهنده شکل کرستل های نمک. | مقدار آن در مادهٔ نهایی. |
| فیروسیانایت های کلسیم، پتاشیم و یا سودیم. | به غلظت کمتر از ۱۰پی پی ام ویا ۱۰ ملی گرام در یک کیلوگرام. |
| ۴- ایملسیفای کننده ها. | مقدار آن در مادهٔ نهایی. |
| پولی سوربیت. | به غلظت کمتر از ۱۰پی پی ام ویا ۱۰ ملی گرام در یک کیلوگرام. |
| ۵-کتلایزر ها. | مقدار آن در مادهٔ نهایی. |
| دای میتایل پولی سایکلوهگزان. | به غلظت کمتر از ۱۰پی پی ام ویا ۱۰ ملی گرام در یک کیلوگرام. |

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات :　　　(۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور:　　　(۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ISLAMICREPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Regulation on Lodizing Salt

**Date:26th MARCH .2011**
**ISSUE NO :(1048)**